(١)

## د بي بنسټه آوازو د خپراوی زیانونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا * يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا»** ژباړه:**« اې مومنانو ! د الله څخه ووېرېږئ او سمه خبره کوئ. لله به ستاسي عملونه سم کړي او ستاسي له ګناهونه څخه به در تېر شي. هر څوك چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، هغه لوی بریالیتوب ترلاسه کړ.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

ډیرو درنومسلمانانو ورونو د حق او د باطل ترمنځ جګړه د اوږدي مودی راهیسی همداسی د بشریت ترمنځ پاتي شوی دهاو دا به تر هغه پوري همداسی دوام وکړي چې دغه خاوره او ځمکه وي او همدارنګه دغه انسان پدغه ځمکه باندی ژوند کوي یو له مهمو وسایلو د جملي څخه چې د باطل خاوندان د حق خاوندانو سره په جګړه کې کاروي هغه د بی بنسټو آوازو خپرول اوهمدارنګه د خلکو ترمنځ د هغه رامنځته کول اورواجول دي پدي کې هیڅ ډول شک او شبه نشته چې خپله خبره کول یوډول امانت او مسئولیت دی برابره خبره ده چې دغه خبری واي او که اوري او همدارنګه دغه خبری د ټلویزیون په صفحو باندي ګوری او که داسی اوریدل کیږي خو پدي کې هغه بی بنسټه اوازي چې د ځیني مغرضه خلکو لخوا خپریږي او هغوي دغه بي بنسټه اوازی د خلکو ترمنځ

خپروي دا پخپله پدي باندي دلالت کوي چې ددغه ډول کارونو سرته رسونکې خلک د زړه ناروغي لري او همدارنګه ځيني داسی سازمانونه او اداري هم شته چې د شر د خاوندانو سره مل دي او پټه سره دغه ډول کارونه سرته رسوي او همدارنګه دغه خبري د خلکو ترمنځ رانقلوي بغير د دي چې د هغه ثبوت او دليل رامنځته کړي دا پخپأه د خلکو په عقلونو او نفسونو باندی ناوړه اغيزه کوي او هدارنګه له کبله يي د خلکو ترمنځ غلطي عقيدي او همدارنګه لمنځه وړونکې افکار خبريږي او لدي کبله بيا ټولنه خپله داسی ګرځي چې په ويره کې وي او په ترڅ کې امنيت هم لمنځه ځي د خلکو ترمنځ کوم باور چې پخوا موجود وو هغه کمزوری کيږي او هغه امت چې د بدن په څير دی چې که چيرته د بدن يو غړي خوږيږي نو ټول ورسره پعذاب وي دغه امت داسی ګرځي چې يو په بل باندي شکونه وکړي.

او همدارنګه دغه امت مسلمه دوبيداسی ډول سره ګرځوي چې دوي يو په بل باندي د خيانت تورونه پورته کړي نو د همدی لپآره نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د يو چالپآره همدغه دروغ بسنه کوي چط هر هغه څه ووايي چې هغه واوري که چيرته د هر هغه څه ويل چې انسان يي واوري د دروغو د ډولونو څخه يو ډول ګڼل کيږي او انسان ته په هغه باندي په دنيا او آخرت کې سخته جزاء ورکول کيږي نو څه خيال دی زمونږ د هغه چا په هکله چې داسی خبری کوي چې نه يي ليدلي وي او نه يي هم اوريدلي وي بلکي يو ډول ناوړه اوازي خپروي چې په ترڅ کې ټولني ته پری زيان ورسوي.

د اسلام مبارک دين د دغه ډول ناوړه اوازو په د باندي او همدارنګه د دغه ډول اوازوپه رامنځته کوونکو باندي يو ډول دريځ نيولي دي چې هغه ثابت دريځ دی او دا يی د نيکو اخلاقو په ضد باندی يو سلوکګڼأي دی او همدارنګه دا يی د هغه لوړو ارزښتونو په ضد باندي ګڼلي دي چې د اسلام مبارک دين په هغه باندی راغلي نو د همدي لپاره د اسلام مبارک

دین مسلمانانواو خپلو ټولو پیروانو ته پدي باندی امرکړي چې د خپلو ژبوساتنه وکړي  د هر هغه څه نه چې د هغه له کبله په ترڅ کې فتنه او په ټولنه کې ګډوډي رامنځته کیږي همدارنګه د اسلام مبارک دین ټولو مسلمانانو ته پدي باندي امر کړي چې پخپلو ویناوو کې ثابته وسي او د خپلو ژبو ساتنه وکړي او همدارنګه هر هغه څه چې دوي اوري لومړي دوي ثابت کړي او له هغه وروسته بیا هغه خپاره کړي ترڅو د خلکو ترمنځ د فتني رامنځته کیدل او د ټولني  د فاسد کیدو او ددي د لمنځه وړلولپآره کار ترسره شي الله جل جلاله ددي په هکله په قرانکریم کې داسی فرمایلي دي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! د الله څخه ووېرېږئ او د رښتینو خلکو ملګري شئ.» او همدارنګه په بل ځاي کې فرمایي:« مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ» ژباړه:« هیڅ داسي لفظ د هغه له خولې څخه نه راوزي چي د هغه د محفوظ ساتلو لپاره یو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي.»او په بل ځاي کې فرمایي:« وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا»ژباړه:« هغه څه مه تعقیبوه چي تا ته د هغه علم نه وي. غوږونه، سترګي او زړه، هر یو د دوی څخه هرو مرو پوښتل کېدونکی دی.» پدغو مبارکو ایتونوکې الله جل جلاله په همدي باندي ټینګار کړی دی چې که په یو څه باندي ته نه پوهیږي نو په هغه باندي ته مه دریږه ځکه چې ستا غوږونه او همدارنګه ستا سترګي اوهمدارنګه ستا زړه او ټول هرڅه د الله جل جلاله په وړاندي مسئولیت لري پدي کېد پیغمبر صلي الله علیه وسلم څخه هم بیلابیل احادیث رانقل شوي چې په ټولو کې مهم حدیث د معاذ بن جبل رضي الله عنه حدیث دی چې هغه ته پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اسلام د مبارک دین فرایض او د خیر او د ښیګڼي دروازي ورته وروښودلي او هغه ته یی امر وکړي چې باید د اسلامپه مبارک دین باندي باید همداسی پاتی شي او بی بنسټه آوازو د خپرواي د لمنځه وړولولپآره کارونه وکړي پدي کې هیڅ ډول شک او

شبهه نشته چې د بې بنسټه اوازو رامنځته کول او د هغه خپرول د منافقو د سلوکو څخه يو سلوک ګڼل کيږي چې ددی لاري منافقين غواړي خپلو اغراضو ته ورسيږي اوپه ترخ کې امنيت لمنځه يوسي اوهمدارنګه د يو هيواد ملي يووالي او همدارنګه ددغه هيواد اقتصادی وده کمزوری کړی او د هيواد برقراري اوسلامتيا ته زيان ورسوي همدارنګه ددی لاری منافقان غواړي چې دخلکو او هيوادوالو په نفسونو او رږونو کې د مايوسي فکر واچي په ځانګړي توګه ځوانان باندي دوي ډير کار کوي نود همدي لپآره قرانکريم همدوي ته د رجفينو نوم ورکړی دی ځکه چې دوي ناوړه اوازي خپروي او ددی په ترخ کې دوي فتني رامنځته کوي او په ټولنه کې په ترخ کې ګډوډي رامنځته کيږي الله جل جلاله ددي په هکله قرانکريم کې داسی فرمايلي دي:« لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا» ژباړه:« که منافقان او هغه خلك چې په زړونو کښي يې فساد دی او هغه کسان چې په مدينه کښي د احساس پارونکو افواهاتو خپروونکي دي، له خپلو حرکتونو څخه لاس وانخلي، نو موږ به د هغو پر خلاف د مبارزې لپاره تا را پاڅوو، بيا به هغوی په دې ښار کښي په ډيره مشکله توګه ستا تر څنګ و اوسيدای شي».

د بي بنسټه آوازو خپرول يو د مهمو وسايلو د جملي څخه ګڼل کيږي چې د جګړي په وخت کې هم ددی څخه ګټه پورته شوی ده او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په زمانه کې مشرکانو د جګړو په وخت کې د بی بنسټه اوازو رامنځته کول چيپه ترخ کې غوښتل يی د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دعوت ته زيان ورسوي او همدارنګه د هغه رنګه بده کړي نو د همدي لپآره مشرکانو به تل هڅه کوله چې د خلکو ترمنځ په دروغو سره اوازي خپری کړي چې ګويا پيغمبر صلی الله عليه وسلم ساحر دی لکه چې الله جل جلاله پدي هکله قرانکريم کې فرمايلي دي:« وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ» ژباړه:« کافرانو وويل: "دی کوډګر دی، ډير درواغجن

دی» دوي به پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندي تور پوری کولو چې هغه شاعر او لیوني دی لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايلي دي:«وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُو آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ» ژباړه:« او ويل به يې: "ايا موږ د يو لېوني شاعر په خاطر خپل معبودان پرېږدو؟"»همدارنګه ددوي په ضد باندي الله جل جلاله بيا په قرانکريم کې فرمايلي دي:« إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ * وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلًا مَا تُؤْمِنُونَ * وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ * تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ» ژباړه:« دا د يو عزتمند استازي (جبرائيل ع) وينا ده؛ د کوم شاعر وينا نه ده، تاسي بيخي لږ (کسان) ايمان راوړئ. و نه دا د کوم کاهن وينا ده، تاسي بيخي لږ غور کوئ. دا (قُرآن) د ټولو کائيناتو د پروردګار لخوا نازل شويدی».

بی له شکه چې پيغمبر صلی الله علیه وسلم د الله استازی دی او نه شاعر دی او نه هم کاهن دی او هغه څه چې هغه راوړي دي چې هغه قرانکريم دي او هغه د الله جل جلاله له لوری راليږل شوی دی.

د احد د جګړي په ورځ هم مشرکانو هڅه وکړه ترڅو بی بنسټه اوازی خپری کړي اود پيغمبر صلی الله علیه وسلم د وفات خبر يي هم خپور کړی وو چې موخه يي همدا وه چې د مسلمانانو ترمنځ کمزورتيا رامنځته کړي او د هغوي ځواک لمنځه يوسي همدا وو چې مسلمانانو په صفونوکې يو څه ګډوډي رامنځته شوه او د هغوي نفسياتي ځواک کمزوري شو همدارنګه مشرکانونوري اوازي هم خپری کړي وي چې به سر کې هم دا وه چې دويويل چې قريشو يو لوي پوځ تيار کړي ترڅو په مديني منوري باندي بريد وکړي او د پيغمبر او د هغه د اصحابو په ضد باندی جګړه وکړي خو مسلمانان پخپل دين باندی ثابته پاتی شو ل او دغه ډول بی بنسټه اوازو ته يی هيڅ ډول پاملرنه ونکړه همدا وو چې الله جل جلاله د مسلمانانو په صفت کې دغه ايتونه رانازل کړل چې فرمايي:« الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ * فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا

رِضْوَانَ اللَّهِ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ» ژباړه:« هغه کسان چي خلکو (منافقانو) ورته وويل: "ستاسي پر خلاف لويي لښکري راغونډي شويدي، له هغو څخه ووېرېږئ ."- نو ددې په اورېدو يې نور هم ايمان پياوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چي زموږ لپاره خدای کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی. په پای کي هغوی د الله تعالی له نعمت او لوريني سره بېرته ستانه شول، هيڅ راز زيان هم ورته ونه رسېدی او د الله له خوښې سره سم يې د تګ کولو مرتبه هم وموندله. الله ډېر ستر لورووونکی دی».
بی له شکه چې د حنين په غزا کې هم دوي د پيغمبر (ص) د وفات خبر خپور کړي وو خوبيا پيمبر(ص) خپله ودريدو او وی ويل: چې زه نبي يمه او زه د عبدالمطلب ځوي يم او زه ژوندئ يم بی له شکه چې د بی بنسټه اوازورامنځته کول او د هغه خپرول ډېر زيات خطرناک دي په ځانګړي توګه عاقل پدي باندي پوهيږي چې دد ضرر ډېر زيات دی او همدارنګه د ژوند د ګډوډولو اود ټولني د لمنځه وړلو لپآره دا يو د مهمووسايلو د جملي څخه ګڼل کيږي چې امنيت پری لمنځه ځې.
زمونږ په اوسني زمانه کې هم بيلابيل دغسی کارونه سره رسيږي چې خبيث کارونه دي چې بيلابيل اغراض لري او بيلابيل شکلونو باندي ترسره کيږي دا چې اوس د نړئ په کچه د معلوماتي ټکنالوجې کې پرمختګ راغلی دي نو دغه ډول بی بنسټه اوازي ډېر زر خپريږي او په کليو کليو خلکو ته رسيږي چې موخه يي يواځيد قوي او پياوړي دولت لمنځه وړل او همدارنګه د هيوادوالوترمنځ د ويري او شکونه رامنځته کول او همدارنګه ځيني نور مهم مسائل راځي چې موخه يي يواځي همدا ده.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو وررونو:**

د اسلام مبارك دین د ټولني د ساتنی لپآره یو ښه لاره غوره کړی ده ترڅو د بی بنسټه اوازو لمنځه وړل رامنځته شي لدي جملي څخه لومړي هم دادي چې هغه خبرونه چې خپریږي هغه یو واری ثابت شي او له هغه وروسته بیا ټولني ته وړاندي شي الله جل جلاله پدی هکله فرمایلي دی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقیق وکړئ، هسي نه چي کومي ډلي ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو پښېمانه شئ.» نو پدغه آیت کې الله جل جلاله په همدي باندي ټینګار کړی دی چې که چیرته یو څوک تاسو ته فاسق او فاجر راځي او یو خبر درکوي نو تاسو په هغه کې پلټنه وکړي ترڅو تاسو پوه شي چې آیا هغه ریښتیا وایی او که دروغ.

نو د همدي لپآره د یو هیواد خلکو ترمنځ اود هغوي د ملي یوالي لپآره باید ددغه ډول بی بنسټه آوازو د خپراوي د لمنځه وړلو لپآره باید په ګډه سره لاس په کار شو لکه چې الله تعالی فرمایي:« لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ» ژباړه:« په کوم وخت کښي چي تاسي هغه اوریدلي ؤ، په همغه وخت کي مؤمنو نارینه او مؤمنو ښځو په خپله ولي ښه ګومان ونه کړ؛ او ولي یې ونه ویل چي دا

ښکاره بهتان دی؟»او ددی د مخنیوي لپاره کار وکړو ترڅو وکولاي شو چې خپل هیواد او ولسونه او ټولنه د ناامني او د بی قراری څخه وساتو.

**ای الله مصر او د هغه خلک وساتي او د هر ډول بدیو څخه د هغوي ساتنه وکړي.**